# ووايه: اې الله! په حلالو دې له حرامو څخه زما بسيانه وکړه، او ما په خپل فضل سره له بل چا څخه بې نيازه کړه

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه ته يو مکاتب راغی (هغه غلام چې بادار سره يې د يو څه مال په بدل کې د ازادولو ليکنه کړې وي) نو ويې ويل: زه د خپلې ليکنې د پوره کولو څخه عاجز شوی يم، نو مرسته راسره وکړه، هغه ورته وويل: آيا داسې يو څه کلمې در ونه ښايم چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم راښودلي دي، که چېرته دربانديې د صير د غره په اندازه قرض وي نو الله تعالی به يې درڅخه پرې کړي، هغه وويل: «ووايه: اې الله! په حلالو دې له حرامو څخه زما بسيانه وکړه، او ما په خپل فضل سره له بل چا څخه بې نيازه کړه».

[حسن] [الترمذي روايت کړی دی]

امير المؤمنين على بن ابي طالب رضي الله عنه ته يو غلام راغی چې د خپل بادار سره يې هوکړه کړې وه خپل ځان ترې وپيري او آزاد يې کړي تر څو خپلواک شي، حال دا چې پيسې يې نه درلودې، نو ويې ويل: زه د خپل حق له پرېکولو عاجز يم، نو په پرېکولو کې يې راسره مرسته وکړه، يا په تعليم او لارښوونې، نو امير المؤمنين ورته وفرمايل: آيا تاته داسې کلمې در ونه ښايم چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم راښودلي دي، که چېرته دربانديې د صير نومې غره په اندازه قرض وي، کوم چې د طيئ قبيلې سره تړاو لري؛ نو الله تعالی به يې درڅخه ادا کړي او خپلو مستحقانو ته به يې ورسوي، او د هغوی له ذلت څخه به دې وژغوري، هغه ووېل ووايه: (اللهم اكفني) ای الله زما بسيانه وکړه، او ما لرې کړه او واړوه (بحلالك) ستا په حلالو سره چې مستغني شم پرې (عن) له : (حرامك) دي چې ستا په حرامو کې واقع شم، (وأغنني) او ما بې نيازه کړه (بفضلك) ستا په سخاوت او مهربان سره مې د بل هر چا له مرستې پرته غني کړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5884